ولی احمد نوری ۲۰۱۱/۳/۲۳

# نظر گـذرا بر نـکات مثبت و مـنـفی ارائه شده
## پیرامون پایگاه های نظامی امریکا در افغانستان

قبل از همه از مسؤولین و کارکنان محترم پورتال وزین افغان جرمن آنلاین تشکر میکنم که مضمون اینجانب را پیرامون پایگاه های نظامی امریکا در افغانستان، در دریچۀ نظرخواهی مورد بحث هموطنان قرار دادند. فکر میکنم نظرات مختلف منفی و مثبت به حد کافی پیرامون موضوع درج شده و راه تفکر را در باره، روشن ساخته است، و دوام بیشتر آن چندان مصلحت نمی باشد. بازهم امور مملکت خویش خسروان دانند!!

خوانندگان گرانقدر لطفاً سلام ها و احترامات مرا بپذیرید!

خواستم قبل از ختم نظر خواهی پیرامون پیشنهاد پایگاه های نظامی دولت اضلاع متحده امریکا در افغانستان از سهمگیری همه شخصیت های محترم چه موافق و چه مخالف در پورتال وزین افغان جرمن آنلاین اظهار سپاس و قدردانی نموده و در یک جمعبندی مختصر از هشتاد نوشتۀ ارائه شده بصورت مقالات تحلیلی و یا در چوکات معین شدۀ «نظر خواهی» چند نکته ایرا از دیدگاه موافق و مخالف طور سمبولیک نیز در اینجا بیاورم :

اول: آنهائیکه بر ضرورت ایجاد پایگاه تکیه کرده اند چنین میتوان گفت که افغانستان به عنوان چهار راه و یا پلی بین شرق وغرب واقع شده که با داشتن یکچنان موقعیت جغرافیائی در منطقه، مرکز تضاد ها و میدان رقابت قدرتها شده که از لشکر کشی سکندر مقدونی گرفته تا چنگیزخان مغول و بعد از آن برتانیۀ کبیر و روسیۀ تزاری و پس از حصول استقلال، تجاوز شوروی و پس از آنهم مداخلات بیشرمانۀ پاکستان و ایران و اجیران داخلی شان که تا امروز دوام داشته و به این لحاظ افغانستان هیچگاه فرصت آرام لازم را برای رشد و ترقی خود نیافته است.

دوم : نوشته ها سوالات زیادی را مطرح نموده اند. از جمله میرسانند که آیا در غیاب قوای بین المللی و امریکا مردم ما با دست خالی در برابر مداخلات پاکستان، ایران و اجیران داخلی شان قادر به دفاع از تمامیت ارضی و تأمین امنیت و بازسازی کشور خود خواهند بود؟
آیا در فردای خروج کامل قوای امریکا، پاکستان بار دیگر زیر نام طالبان افغانستان را اشغال نخواهد کرد و بازهم رقابت بین پاکستان و ایران باعث جنگهای خانمانسوز داخلی در افغانستان نخواهد شد؟
و آیا جنگسالارانی چون قوماندان اسمعیل خان که حالا مردم را به مخالفت علیه ایجاد پایگاه امریکا تحریک می نمایند، در صورت هجوم طالبان بر کابل و هرات و شهر های بزرگ دیگر کشور باز از میدان جنگ فرار نخواهند کرد و به ایران پناه نخواهد برد؟ اکنون هر کدام بیشتر از پیشتر پول اندوخته اند و دولت های حامی خود را هم در کنار خود دارند چنانکه قبلا هرکدام تجربه شده اند. واضحست که در برابر زور فرار را برقرار ترجیح میدهند ولی وای بحال میلونها افغان فقیر و مظلوم این کشور که جز دادن قربانی و تحمل دیگر هیچ راه و چارۀ نخواهند داشت.

فشردۀ نظر جناح های مخالف ایجاد پایگاه :
مهمترین دلیل آنهایی که مخالف ایجاد پایگاه نظامی امریکا در افغانستان هستند اینست: که استقلال و حاکمیت ملی ما از بین میرود و **همسایه های ما آزرده و یا قهر خواهند شد**. نخیر نه استقلال ما خدشته دار خواهد شد و نه هم تمامیت ارضی کشور صدمه خواهد دید. بلکه از دست همین همسایگان غدار و مداخله گر و همین جنگسالاران نوکر صفت و اجیران مزد بگیر خارجی باعث شد که کشور ما امروز محتاج به پایگاه نظامی امریکا گردد. ولی پایگاه دراز مدت امریکا در کشور این پیغام را به دولت های منطقه خواهد رساند که بعد از آن تلاشهای مذبوحانه شان برای تسخیر و نفوذ در افغانستان بی ثمر خواهد بود.
سؤال اینست که آیا کشور های هند، پاکستان و ایران هنگامیکه کشورهای شانرا با سلاح اتومی مجهز می ساختند از همسایه شان «افغانستان» طالب مشوره و نظر شدند؟ و یا هنگامیکه کشور پاکستان به پیمان های سیتو و سنتو می پیوست آیا نظر همسایۀ خود، افغانستان را در مورد جویا شده بود؟.نخیر .....


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

در اخیر از محترم استاد نگارگر هم اظهار تشکر می نمایم که با مصاحبه های شان هرچه بیشتر زمینهٔ این بحث های مهم را در مورد فراهم نمودند. با احترام

***********

له دې لارې غواړم له ټولو پټمنو او په افغانستان مېنو درنوهېوادوالو څخه د زړه له کومې مننه وکړم چې په دغه بنسټیز بحث کې یې ګډون وکړ او د خپل موافق یا مخالف لېد لوري په ښودلو یې زموږ د بحث اړخونه لا هم پاخه کړل.

هماغسې چې ټولو په افغانستان مینو هېواد والو ته د لمر په شان څرګنده ده دا هېواد دداسې یوه ګړنګ پر ژۍ درول شوی دی چې اوس د افغانستان په نامه د یوه هېواد شتون او نه شتون یې له هرو مرو ګواښ سره مخامخ کړی دی. دا ټول په تېرو دیرشو کالو کې د هېواد په سیاسي او پوځي چارو کې د ښکېلو کېن لاسو او ښي لاسو ګوندونو ، د ګوندونو د مشرانو او د قوماندانانو او جنرالانو د ناپامۍ او کړو وړو حاصل دی چې نن یې د یوه پردي هېواد د پوځي اډو د شتون او د اډو د منلو خبرې ته اړ کړي یو تر څو دا هېواد د لېوانو په شان په ګونډو ناستو سولندو ګاونډیو له داړو څخه و ژغورو.

ددغه بحث په منځټکي کې یو شمېر هېوادوالو د افغانستان دوديز ناپېيلتوب تر پوښتنې لاندې راوستی او اندېښنه یې څرګنده کړې چې زموږ ګاونډیان به د امریکا د پوځي اډو په شتون کې له افغانستانه خپه شي او یا به افغانستان ته ګواښ را منځته کړي. دغو اندېښنو ته په ځواب کې زما په اند د افغانستان دوديز ناپېيلتوب د شوروي له یرغل سره سم له منځه ولاړ. د شوروي له برید سره جوخت سره جګړه هم له منځه ولاړه او د سړې جګړې اور په افغانستان کې د نړۍ د دوه وو زبرځواکو په لاسونو تود شو او ددغه اور خځلي افغان ولس وو، حالات بدل شول، ددغه اور د سمبالوونکو څېرې بدلې شوې مګر اور لا په هماغه حال پاتې دی. د تیرو دېرشو کالو په پرتله ګاونډیان هم له پوځي او هم له اقتصادي اړخه پیاوړي شوي دي. جګړې افغان ولس ته له فقر، نالوستی / بېسوادی، هر اړخیزې ورانۍ او کړاو او د کرغېړنو فاسدو غیر ملي دولتونو له جوړېدلو پرته چې د همدغو ګاونډیو په چوپړ کې دي بله لاسته راوړنه نه درلودله. ټول سیاسي نوښتونه له افغانانو څخه اخیستل شوي دي. زما په اند اوس هغه مهال را رسیدلی دی چې د هېواد د پایښت لپاره لارې چارې و سنجو او د پوځي اډو شتون د افغانستان ملي خپلواکي او استقلال ته هېڅ ډول ګواښ نه رامنځته کوي.

شمالي ګاونډي هېوادونه د روسیې تر اتومي دفاعي پوښښ لاندې دي، ایران د اتومي کېدلو په درشل کې دی، چین ستر پوځي او اقتصادي ځواک دی او اتومي هند هم له ډېر نېږدې دا هېواد څاري او ان افغانستان د هند، پاکستان، ایران، روسیې او چین د سیالیو په ډګر بدل شوی دی. د ملي او ولسي ټولنو او ګوندونو نه شته والی، په ډلو ټپلو د ویشل شویو افغانانو ستونزه بل لامل دی چې موږ په اوسمهال کې ددغسې یوه وړاندېز منلو ته اړ کوو. پوښتنه دا ده چې افغان ولس به تر څو د پردیو د جګړې پیټی په اوږو ګرځوي. کله چې هند، پاکستان په اتومي ځواک بدلیدل آیا له افغانستانه کوم ګاونډی پوښتنه وکړه، یا همداسې د سیټو په تړون د ګډون په تړاو کوم ګاونډي له افغانستانه پوښتنه وکړه؟

نړۍ بدله شوې ده. نن سبا د اقتصادي تړونونو نړۍ پر ټولو نړیوالو واک چلوي. د منځنۍ آسیا طبیعي زیرمو ته د چین، هند او د لوېدېزې نړۍ ماشینونونه تږي دي او هماغسې چې پخوا وو نن هم افغانستان د خپل جیوپولیتیک موقعیت له اړخه د نړۍ د اقتصادي – پوځي سیالیو په ډګر بدل شوی دی. دا ډګر کېدای شي د هېوادونو د تړښت د پله په توګه بدل شي او یا هم د هغوی د بیلتون د کرښې په توګه.

شک نه شته چې که په هېواد کې د امریکا پوځي اډې ځای پر ځای شي په افغانستان کې به د لنډې مودې لپاره اوسنی رژیم ته ورته یو فاسده او تالي څټی رژیم په واک کې وي. خو د پوځي اډو شتون به د ګاونډیو د وېرې ګواښ تر یوه مهاله لیرې کړي او افغانان به له یوې خوا آرام نفس و باسي او د ډاډ لرم چې ملي بسنټونه او سیاسي ګوندونه به په دې لړ کې د هېواد د راتلونکې ژغورنې لپاره رامنځته شي. موږ ته بنسټیزه پوښتنه د پلرونو او نیکونو په وینو او تورو د ګټل شوي افغانستان پایښت او بقا ده.

په پای کې له ټولو هېوادوالو څخه یوه ځل بیا د زړه له کومې مننه کوم چې په داسې یوه مهم بحث کې یې برخه واخیستله.

په درناوي.


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ